# ايا تاسو يو كډوال ياست؟

# ايا ماشومان لرئ؟

# ايا غواړئ چې د خپلو حقونه په هكله پوه شئ او د خپلې كورنۍ خوندي ساتلو لپاره چمتو وئ؟



دغه لارښود ګټور معلومات درکوي، خو قانوني وسيله نه ده.
که قانوني مرستې ته اړتيا لرئ، په مهربانۍ له يوه وکيل سره اړيکه ونيسئ.

# تاسو د Boulder کاونټۍ یوه برخه یاست...

Boulder کاونټي زموږ په ټولنه کې هر چا ته پام کوي. *موږ خدمتونه ټولو خلکو ته برابرو او د هغوی نژاد، توکم، جنسیت، جنسي تمایل، عاید، سیاسي لیدلوری، عمر، دین، د بدن ډول یا وړتیا راته مهمه نه ده. په یادو کسانو کې ټول د کډوالۍ یا ښاروندۍ وضعیت لرونکي خلک شامل دي. هر څوک د درناوي متسحق دي.*

*دغه لارښود مرسته درسره کولی شي چې خپله کورنۍ خوندي وساتئ او پر خپلو حقونو پوه شئ. یاد لارښود دوې برخې لري:*

**1 *برخه: د کورنۍ خوندي ساتنې پلان.*** پوه شئ چې د خپلو ماشومانو د خوندي ساتلو لپاره پلان څنګه جوړ کړئ، که د تمې خلاف څه پېښ شي.

***2 برخه: پر خپلو حقونو پوه شئ.*** د خپلو حقونو په هکله پوه شئ، دا چې څه وکړئ که مو د کډوالۍ وضعیت تر پوښتنې لاندې راشي او په Boulder کاونټۍ او Colorado کې مرسته په کوم ځای کې ترلاسه کړئ.

# لړلیک


**1 برخه ایا ماشومان لرئ؟ د هغوی د خوندي ساتلو لپاره یو پلان جوړ کړئ.........................................................1**

هغه ګامونه چې د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره یې همدا اوس پورته کولی شئ.....................................................2

دوه داسې سندونه چې ستاسو د ماشومانو په لا زیاتو خوندي ساتلو کې مرسته کوي..................................................................................8

**2 برخه ایا تاسو یو کډوال یاست؟ پر خپلو حقونو پوه شئ..........................................................19**

که د کډوالۍ استازی اړیکه درسره نیسي، پر خپلو حقونو پوه شئ.........................................................................20

د کډوالۍ په هکله معلومات یا له وکیل څخه مرسته ترلاسه کول..........................................................................25



دغه لارښود د کډوالو لپاره د معلوماتو پروژې رضاکارانو چمتو کړی دی چې د Boulder کاونټۍ کمشنرانو لخوا د ټولنې خدمتونو څانګې له لارې تمویل شوی وه.
د لارښود حاشیه او ډیزان RPM Frontline Solutions برابر کړی دی.
د لا زیاتو معلوماتو یا د دغه او یا هم د کمپاین لارښود د ډیجټلي نسخې لپاره له Info4Immigrants@bouldercounty.org سره اړیکه ونیسئ.
دویمه نسخه: منځپانګه اپډیټ او ساده ژبه وکارول شوه، د 2024 ډسمبر



**کور فوټو یې د سرطان ملي اداري [عامه برخه] لخوا د ویکمپډیا عامو موادو لخوا دی**
**نور ټول انځورونه د /https://pixabay.com لینک دي**
**© د کاپي حق د کډوالو لپاره معلوماتي پروژه 2025**



# 1 برخه ایا ماشومان لرئ؟
# د هغوی د خوندي ساتلو لپاره یو پلان جوړ کړئ

ټول والدین باید په متحده ایالاتو کې د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره یو پلان ولري، که د تمې خلاف څه پېښ شي.

لکه:

- ښایي په کار یا د موټر ټکر کې زیان درته ورسي.
- ناروغ شئ او د رغېدو لپاره وخت ته اړتیا ولرئ.
- ښایي اړ وئ چې د لنډ یا اوږد مهال لپاره له متحده ایالتونو ووځئ. (دغه چاره په ځانګړې توګه د کډوالو لپاره مهمه ده.)

کولی شئ د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره ګامونه پورته کړئ. ځینې ګامونه نن ورځ په کور کې پورته کولی شئ. که غواړئ لا زیات څهه ترسره کړئ، کولی شئ دوه قانوني اسناد هم لاسلیک کړئ چې مرسته به وکړي، که خپلو ماشومانو ته پاملرنه نه شئ کولی یا خپلې پیسې په خپله مدیریت کړئ.

د دغه لارښود 1 برخه له تاسو سره مرسته کوي چې د **کورنۍ د چمتووالي پلان** جوړ کړئ.

- لومړۍ برخه اسانه ګامونه تشریح کوي چې د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره یې همدا اوس پورته کولی شئ.
- دویمه برخه دوه قانوني اسناد معرفي کوي چې په هغه صورت کې یې کارولی شئ که وغواړئ چې لا زیات ترسره کړئ.
- دغه اسناد تاسو ته اجازه درکوي:
  - خپلو ماشومانو ته د پاملرنې لپاره یو څوک انتخاب کړئ، که تاسو پاملرنه نه شئ ورته کولئ.
  - د خپلو مالي چارو د مدیریت کولو لپاره یو څوک غوره کړئ.
- یاد لارښود تشریح کوي چې دغه اسناد څه معنا لري، څنګه کار کوي او د هغه د رسمي کولو لپاره د متحده ایالتونو یو نوټري (د رسمي اسنادو د ثبت دفتر محرر) په کوم ځای کې پیدا کړئ.

# هغه ګامونه چې د خپلې کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره يې همدا اوس پورته کولی شئ

## 1. د مهمو اسنادو دوسيه چمتو کړئ


د خپلې کورنۍ د ټولو مهمو قانوني اسنادو يوه دوسيه يا کتابچه تنظيم کړئ. دوسيه په يوه پلاستيکي کڅوړه کې کېږدئ او په خوندي، د اور او سيلاب ضد ځای کې يې وساتئ. خپلو ماشومانو، د کورنۍ غړو او د اړيکو بيړنيو کسانو ته ووايئ چې د اړتيا پر مهال يې چېرته پيدا کولی شئ.

د دغو اسنادو فوټوکاپي يا انځورونه واخلئ او د باور وړ خپلوان يا ملګري ته يې ورکړئ.



- لاندې د هغو اسنادو ډولونه دي چې پکې شامل يې کړئ:
- د ټولو بالغ کسانو او ماشومانو پاسپورټونه
- د ټولو بالغ کسانو او ماشومانو د زيږون تصديقونه
- د واده جواز يا نکاح خط
- د موټر چلولو جواز يا نورې پېژند پاڼې
- د ټولنيز امنيت کارټ يا ITIN شمېره
- ارادې
- د موټر مالکيت کاغذونه
- د کور د کرايې يا مالکيت تړون
- د زيږون ثبت کتابچه (د امريکا په متحده ايالتونو کې داسې زيږېدلې ماشومان چې د والدينو په اصلي هېواد کې ثبت شوي وي، البته که د پلې کېدو وړ وي)
- د ټولو ماشومانو د واکسينو سوابق
- د کډوالۍ اسناد (A شمېره يعنې A شمېره يعنې د بهرنيانو د نوم ليکنې شمېره A-Number (Alien Registration Number)، د کار اجازه، ګرين کارټ، ويزه، د ښاروندۍ کاغذونه او نور)
- د ماشومانو لپاره د سرپرستۍ فورمې او د مالي پرېکړو لپاره وکالتنامې
- هر ډول محدوديتي حکمونه چې تاسو درکول شوي دي
- د اړيکو بيړنۍ او نورې مهمې شمېرې

## 2. د خپلې کورنۍ د بيړنۍ اړيکو معلومات وليکئ




په راتلونکو دوو پاڼو کې شته فورمې بشپړې کړئ. ياد معلومات په داسې ځای کې وساتئ چې تاسو او د کورنۍ غړي مو په اسانۍ ورته لاسرسي پيدا کولی شي.

# ستاسو د بیړني حالت معلومات

| د اړیکو بیړنۍ شمېرې | |
|---|---|
| سملاسي بیړنۍ اړیکه | 911 |
| د پولیسو ډیپارټمنټ | |
| د اور وژني ډیپارټمنټ | |
| د مسمومیت کنټرول مرکز | |

| د کورنۍ د اړیکو شمېرې | |
|---|---|
| **مور\والد\سرپرست** | |
| د کور د ټلیفون شمېره | |
| د شخصي ټلیفون شمېره | |
| د کار پته | |
| د کار د ټلیفون شمېره | |
| **پلار\والد\سرپرست** | |
| د کور د ټلیفون شمېره | |
| د شخصي ټلیفون شمېره | |
| د کار پته | |
| د کار د ټلیفون شمېره | |

| | |
|---|---|
| **د اړیکو نورې بیړنۍ شمېرې او اړیک (1)** | |
| د شخصي ټلیفون شمېره | |
| **د اړیکو نورې بیړنۍ شمېرې او اړیکه (2)** | |
| د شخصي ټلیفون شمېره | |
| **د اړیکو نورې بیړنۍ شمېرې او اړیکه (3)** | |
| د شخصي ټلیفون شمېره | |

| د اړیکو متفرقه شمېرې | |
|---|---|
| **ډاکټر** | |
| د ټلیفون شمېره | |
| د روغتیایي بیمې شرکت | |
| د پالیسی شمېره | |
| **د غاښونو ډاکټر** | |
| د ټلیفون شمېره | |
| د غاښونو د بیمې شرکت | |
| د پالیسی شمېره | |
| **د موټر جوړولو کال\ماډل** | |
| د لایسنس پلیت نمبر | |
| د موټر د بیمې شرکت | |
| د بیمې پالیسی شمېره | |
| د ټلیفون شمېره | |

| | |
|---|---|
| **وکیل (دفاعي وکیل) یا د قانوني خدمتونو غیر انتفاعي چمتو کوونکی** | |
| پته | |
| د ټلیفون شمېره | |

| | |
|---|---|
| **که د امریکا ښاروند نه وئ، نو ستاسو د هیواد قونسلګري** | |
| پته | |
| د ټلیفون شمېره | |

## 3. د خپل هره یوه ماشوم لپاره یوه معلوماتي فورمه ډکه کړئ



د خپل ماشوم د خوندیتوب او هوساینې لپاره لاندې ګامونه پوره کړئ:

1. د ماشوم معلوماتي فورمه بشپړه کړئ: د هر یوه ماشوم معلومات ولیکئ. که تر یوه ډېر ماشومان ولرئ، د نورو لپاره کاپي وباسئ.
2. فورمه شریکه کړئ:
   - یوه کاپي یې د خپل ماشوم ښوونځي ته ورکړئ.
   - یوه کاپي یې هغه کس ته ورکړئ چې ښایي ستاسو ماشوم ته پاملرنه وکړي، که یې تاسو نه شئ کړئ چې په دې ترتیب یاد کس ټول مهم جزیات لري.

| | |
|---|---|
| **ماشوم نوم** | |
| د زیږون نېټه او وخت (ښار، ایالت، هېواد) | |
| د ماشوم د شخصي ټلیفون شمېره (که شته وي) | |
| **د ښوونځي نوم** | |
| د ښوونځي پته | |
| د ښوونځي د ټلیفون شمېره | |
| د ښوونکي نوم | |
| **تر ښوونځي وروسته پروګرام، نوم** | |
| تر ښوونځي وروسته پروګرام، د ټلیفون شمېره | |
| **بل کمپ\سپورتونه\پروګرام، نوم** | |
| بل کمپ\سپورتونه\پروګرام، د ټلیفون شمېره | |
| **حساسیتونه** | |
| **طبي ستونزې** | |
| **درمل** | |
| **د ډاکټر (د ماشومانو ډاکټر) نوم** | |
| د ډاکټر د ټلیفون شمېره | |
| د ډاکټر پته | |
| **د ماشوم د روغتیایي بیمې شرکت** | |
| د بیمې شمېره | |

## 4. د خپلو ماشومانو ښوونځي ته ووایئ چې څوک ماشومان بیولی شي




ډاډمنه کړئ چې ښوونځي او هر ډول پروګرامونه چې ستاسو ماشومان ورځي، پر دې پوهېږي چې څوک د ماشومانو د بیولو اجازه لري.

یاد معلومات په منظم ډول اپډېټ کړئ. که کوم څوک محدودیتي حکم ولري، نو ښوونځي ته یې یوه کاپي ورکړئ.

## 5. خپلو ماشومانو ته د مهمو اړیکو معلومات ورکړئ چې د خپل شا په بکس کې یې له ځان سره وګرځوي




- د مور، پلار او نورو ټولو ځایي خپلوانو د کار او شخصي ټلیفون شمېرې ورکړئ.
- د هغه چا یا بل باوري بالغ کس نوم او د ټلیفون شمېره چې تر ښوونځي وروسته د ماشومانو د بیولو اجازه لري.
- ډاډمنه کړئ چې ماشومان دغه معلومات له ځان سره ګرځوي.

## 6. د چمتووالي د پلان په هکله له خپلې کورنۍ او ماشومانو سره خبرې وکړئ

- یاد پلان خپلې کورنۍ ته تشریح کړئ
- خپل ماشومان پوه کړئ چې یو څوک به تاسو ته پاملرنه وکړي حتی که د کم وخت لپاره هم وي، که ژه ونه شم کولی.
- بیا ځلي ډاډمنه کړئ دغه چاره به احتمالاً پیښه نه شي، خو مهمه ده چې باید سړی چمتو وي.
- ډاډمنه کړئ چې ماشومان پوهیږي چې څوک پاملرنه راته وکړي او هڅه وکړئ چې یو داسي څوک انتخاب کړئ چې دوی یې له مخکي پېژني او باور پرې لري.
- له خپلو ماشومانو سره په داسې ډول خبرې وکړئ چې د دوی د عمر لپاره د مفهوم وړ وي.

## 7. که تاسو کډوال وئ، ډاډمنه کړئ چې ټول ماشومان مو پاسپورټونه لري او یا مو له خپل اصلي هېواد سره ثبت شوي دي



که مو ماشوم په متحده ایالتونو کې زیږېدلی وي:

- د متحده ایالتونو د پاسپورټ ترلاسه کولو لپاره www.travel.state.gov لینک ته مراجعه وکړئ.
- د خپل ماشوم زیږون په متحده ایالاتو کې د خپل هیواد له سفارت یا قونسلګرۍ سره ثبت کړئ. دغه چاره ښايي ستاسو ماشوم ته امتیازونه ورکړي، چې په ځینو مواردو کې ستاسو د هیواد تابعیت هم پکې شامل دی.

که مو ماشوم ستاسو په اصلي هېواد کې زیږیدلی وي، د پاسپورټ ترلاسه کولو په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره د همغه سفارت یا قونسلګرۍ سره وګورئ.

## 8. ستاسو پر وړاندې د نیولو هر ډول صادر شوي حکمونه پاک کړئ...

که قاضي پر جرم اخته کېدو یا داسې ستونزې لکه محکمې په حاضرېدو نه پاتي راتلل یا د ماشوم ملاتړ تادیې له امله ستاسو پر وړاندې د نیولو کېدو حکم صادر کړی وي؛ هڅه وکړئ چې "پاک" یې کړئ. ښایي اړ وئ چې همغه محکمې ته ورشئ او تر قاضي مخکې یا په حضوري یا د وکیل له لارې یا هم په دواړو ډولونو سره په محکمه کې حاضر شئ. قاضي ښايي حکم وکړي چې تاسو باید جریمه ورکړئ یا د یو څه مودې لپاره زندان ته لاړ شئ، خو د خپل حکم تصفیه کول د احتمالي ایستلو / شړلو لپاره یو مرستندوی فکتور لری کوي

د Boulder کاونټی د 20مي جنايي حوزې لپاره محکمې د "د نیولو حکم نوبتي پروګرام" لري. د محکمې منشي ته په 3750 -441-303 شمېرې سره زنګ ووهئ ترڅو معلومه کړئ چې ایا تاسو ور یاست او دا چې په کومه ورځ او چیرته به د سهار په 8:00 بجو حاضر شئ.

په مهرباني سره په یاد ساتئ

1. د قربانیانو د حقونو د قانون جرمونه د نیولو د نوبتي پروګرام پر شرایطو برابر نه دي. د جزیانو لپاره د نیولو نوبتي حکم تر معلوماتو لاندې https:// www.coloradojudicial.gov/courts/trial-courts/boulder-county لینک ته مراجعه وکړئ. کولی شئ په Boulder کاونټی کې د حوزې د وکیل له دفتر سره د وخت تنظیمولو لپاره اړیکه ونیسئ ترڅو محکمې ته د داسي قضیې په تړاو حاضر شئ چې په بل ډول د نیولو حکم نوبتي پروګرام ور وي.
2. د کولوراډو قانون د کډوالی او ګمرکو له تطبیق (ICE ،Immigration and Customs Enforcement) څخه په محکمو دننه یا یې شاوخوا سیمو کې (د نږدې پیلي لارو، د موټرو لارو، د ننوتلو لارو او د پارکینګ ساحو په ګډون) د خلکو له نیولو څخه منع کوي.
3. د Boulder کاونټي زندان له ICE سره تړون نه لري چې د بندیانو د اسنادو د حالت شریک کړي، خو له نومونو سره د نیولو او توقیف معلومات عامه سوابق دي او له همدې امله د هرچا لپاره پرانیستی دی.

# دوه داسې سندونه چې ستاسو د ماشومانو په لا زیاتو خوندي ساتلو کې مرسته کوي



که غواړئ چې د خپلې کورنۍ خوندي ساتلو لپاره اضافي ګامونه پورته کړئ، کولی شئ دوه قانوني اسناد ډک کړئ چې په هغه صورت کې مرسته کوي چې تاسو خپل ماشوم ته پاملرنه یا خپلې مالي چارې نه شئ مدیریت کولی.

- د خپلو ماشومانو لپاره **یو سرپرست ځانګړی** کړئ: دغه سند د یوه چا د نامه اخیستو اجازه درکوي چې ستاسو ماشومانو ته پاملرنه وکړي، که یې تاسو نه شئ کولی.
- ***یوه مالي استازی ځانګړی کړئ:*** دغه سند د هغه چا نوم یادوي چې ستاسو مالي چارې سمبال کړي، که یې تاسو نه شئ کولی.

له دغو اسنادو څخه د یوه کارولو لپاره هغه کس چې تاسو انتخابوئ، باید:

- د متحده ایالتونو ښاروند یا قانوني دایمي اوسېدونکی وي (ګرین کارت ولري).
- 18 کلن یا تر دې ډېر عمر ولري.

د کورنۍ غړي د سرپرست یا مالي چارو استازي په توګه نومول کېدی شي، که دغه الزامات پوره کوي.

**د رسمي اسنادو د ثبت په دفتر کې د خپلو اسنادو ثبتول**

- ښه خبره ده چې خپل اسناد نوټرایز یعنې د رسمي اسنادو په دفتر کې ثبت کړئ. د رسمي اسنادو د ثبت دفتر محرر به مو لومړۍ هویت تایید کړي. د دغه کار لپاره باید خپله پېژندپاڼه وښیئ او د یاد دفتر محرر او دو شاهدانو په مخ کې سند لاسلیک کړئ. د دغه دفتر محرر به بیا اسناد مهر کړي.
- په ځینو حالتونو کې ښايي د رسمي اسنادو د ثبت په دفتر کې د اسنادو ثبتول اړین وي، خو بیا هم ثبول یې لا زیات واک درکوي او بانک او د کېدوالۍ چارواکي یې معمولاً غواړي.

که اړینه پېژندپاڼه نه لرئ، نو تاسو او شاهدانو مو لا هم کولی شئ اسناد لاسلیک او نېټه ورکړئ. دغه اسناد له خپلو نورو مهمو سوابقو سره وساتئ.



## د امریکا متحده ایالتونو د رسمي اسنادو د ثبت دفتر محررانو په

په متحده ایالاتو کې د رسمي اسنادو د ثبت دفتر محرر په مکسیکو او ډېرو نورو هېوادونو کې "Notario Público" ته ورته نه دی. په متحده ایالاتو کې د رسمي اسنادو د ثبت دفتر ډېر محرران یعنې نوټري ګان شته دي او معمولاً وکیلان دي. دغه راز به اړ وئ چې د هر هغه یوه سند لپاره $5-10 <u>پیسې ورکړئ</u> چې غواړئ مهر شي.

**د یاد دفتر د محرر لخوا د خپلو اسنادو مهر کېدو لپاره څه ډول هویت اړین دی؟**

باید خپل اوسنی هویت ورته وښیئ چې ایالتي یا فدرال حکومت درته صادر کړی دی او لاندې موارد پکې شامل دي:

1. ستاسو انځور
2. ستاسو لاسلیک

انځور او لاسلیک باید دواړه له هغه یه سره سمون ولري چې د یاد سند لاسلیکولو پر مهال یې کاروئ.

**د هویت عامې منل کېدونکې بڼې:**

- <u>**ټل منل کېدونکې:**</u>
  - د متحده ایالتونو ګرین کارت
  - د متحده ایالتونو پاسپورت
  - نظامي پېژندپاڼه
  - د ایالت لخوا د موټر چلولو صادر شوی جواز یا نورې پېژند پاڼې
- <u>**خینې وختونه منل کېدونکې:**</u>
  - د بل هېواد پاسپورت
  - په متحده ایالتونو کې د بهرني قونسلګرۍ لخوا صادره شوې پېژندپاڼه
  - د بې اسنادو اوسېدونکو لپاره د کلوراډو د موټر چلولو "محدود" جواز
  - د ښوونځي یا کالج لخوا ورکړل شوی هویت

## د امریکا متحده ایالتونو د رسمي اسنادو د ثبت دفتر محررانو په هکله معلومات



**د یاد دفتر محرر چېرته پیدا کولی شم؟**

د ټولنې ځیني اداري یاد محرران لري چې هر څوک یې کارولی شي. د دغه ډول محررانو پیدا کېدو ځیني ځایونه په لاندي ډول دي: ښایي اړ وئ چې یو غږیز پیغام پرېږدئ چې تشریخ کوي چې تاسو څه غواړئ او هغوی ته خپله د ټلیفون شمېره ورکړئ چې دوی بېرته درته ووهي:

- په Longmont کې
  – El Comité, 455 Kimbark St., 303-651-6125
  – Longmont Housing Authority, 350 Kimbark St, 303-651-8581
- په Lafayette کې، د ټولني مرکز Sister Carmen: 655 Aspen Ridge Dr., 303-665-4342
- په Boulder کې، د Boulder مسکن همکاران: 4800 North Broadway, 720-564-4610

ډېری بانکونه د خپلو پیرودونکو او په ځېنې حالتونو کې د عیر پیرودونکو لپاره د رسمي اسنادو د بت دفتر محرران لري. ځیني پرنټ او یا لیږد خدمت لرونکي پلورنځي (لکه UPS) او کم ښوونځي هم دغه ډول محرران لري.

## *1. د خپلو ماشومانو ته قانوني خوندیتوب چمتو کول*



دا پرېکړه کول مهم دي چې څوک به په هغه صورت کې ستاسو د ماشومانو قانوني سرپرست وي چې تاسو ورته پاملرنه ونه شئ کولی. دغه کار هغه وخت پیښېدی شي چې تاسو ناروغ وئ، توقیف شوي وئ یا ICE دیپورټ کړي وئ یا هم مړه شوي وئ.

- له خپلې کورنی او ملګرو سره په دې هکله خبرې وکړئ چې د سرپرستۍ لپاره ښه کس وي. ډاډمنه کړئ چې هغه کس چې تاسو یې انتخابوئ، د مسوولیت اخیستو ته راضي دی.

- د "د اوږدمهاله سرپرست (سرپرستانو) ټاکل" په نامه فورمه راتلونکو دوو پاڼو کې ډکې کړئ.
  1. د دوو شاهدانو په مخ کې فورمه لاسلیک او نېټه ورکړئ.
  2. که غواړئ چې محرر یې ثبت کړي، د فورمې لاسلیکولو او نېټې ورکولو ته تر هغه صبر وکړئ چې له یوه

**د سرپرستۍ فورمې په هکله تکراري پوښتل شوې پوښتنې**

**پوښتنه: که دغه فورمه بشپړه کړم، ایا د والدینو په توګه به خپلو حقونه اوس له لاسه ورکړم؟**
ځواب: نه. یاد سند به یواز هغه وخت نافذ شي که تاسو د جدي ناروغی، توقیف کېدو، د ICE لخوا ډیپورټ کېدو یا مړینې له امله خپلو ماشومانو ته پاملرنه ونه شئ کړی. یوازې په هغه صورت کې نافذ شي چې دا بل والد نشته وي. مګر دا چې دغه دواړه کارونه پیښ شوي وي، تاسو لا هم د ماشومانو والد یاست او د هغوی بشپړ مسوول یاست.

**پوښتنه: که سرپرست ماشومانو ته پاملرنه کوي، خو بیا وروسته زه هم د دې وړ شم چې پاملرنه ورته وکړم، نو ایا خپل ماشومان مې بېرته اخیستی شم؟**
ځواب: هو. کولی شئ په راتلونکې کې هر وخت فورمه لغوه کړئ، که مو حالت بدل شي.

**پوښتنه: که اده ولرم، نو ایا بل والد/والده د مسوول سرپرست په ډول ذکر کړم؟**
ځواب: نه، اړینه نه ده. فورمه داسې انګیرې چې بل والد/والده به په هغه صورت کې ماشومانو ته پاملرنه وکړي چې دغه بل والد/والده نشته وي. فورمه یوازې هغه مهال نافذه کېږي چې دواړه والدین نشته وي.

**پوښتنه: ایا دواړه والدین اړ دي چې خپل اسناد لاسلیک کړي؟**
ځواب: هو، که دواړه والدین لا هم په دغه هېواد کې وي او موجود وي، نو هر یو باید خپله فورمه لاسلیک کړي او د ماشومانو لپاره ورته سرپرست (سرپرستان) ذکر کړي. که دواړه والدین نشته وي، نو هغه یو والد/والده کولی شي فورمه بشپړه او لاسلیک کړي.

# د اوږدمهاله سرپرست (سرپرستانو) ټاکل

زه ______________________________ د لاندې ماشومانو قانوني سرپرست یم:

(ستاسو نوم)

| **د ماشومانو نومونه (که تر 18 کلنۍ کم عمر ولري)** | **د زیږون نېټې** |
|---|---|
| | |
| | |
| | |
| | |
| | |

زه د سرپرستۍ ټولې پخوانۍ ټاکنې لغوه کوم چې ښايي ترسره کړې مې وي. زه لاندې په ترتیب ذکر شوي کسان ټاکم چې د پورتنیو نومول شوو ماشومانو د سرپرست په توګه کار وکړي، که زه خپلو ماشومانو ته پاملرنه ونه شم کړی:

| **د سرپرست نوم** | **د ټلیفون شمېره** |
|---|---|
| | |
| | |
| | |

زما د معلولیت، مړینې، د کډوالۍ توقیف، ډیپورټ یا هر بل ډول نه شتون په صورت کې به ټاکل شوی سرپرست واک ولري چې زما د ماشومانو تر پاملرنې اړوند ټولې پرېکړې وکړي، چې د کوچنیو ماشومانو د استوګنې په اړه پرېکړې، د هغې طبي درملنې تایید یا رد کول چې زما د ماشومانو لپاره وړاندیز شوې وي یا د هغوی لپاره شتون ولري؛ تعلیمي پرېکړې او د دوی تعلیمي سوابقو ته لاسرسی او دغه راز زما د ماشومانو تر پاملرنې او توقیف پورې اړوند ټولې نورې پرېکړې پکې شاملې دي خو یوازې تر همدې پورې محدوده نه ده. که زه له معلولیت، توقیف، دیپورټ یا بل ډول نه شتون څخه بیرته را وګرځم، نو حق لرم چې هر وخت د سرپرستۍ دغه ټاکنه لغوه کړم.

پورتني ذکر شوي سرپرستان به مې د ماشومانو د "شخصي استازي" په توګه وټاکل شي چې د عامه قانون 104-191 او ملاتړو CFRs لخوا تعریف شوي او په بل ډول د 1996 کال د روغتیا بیمې لېږد وړتیا او حساب ورکولو قانون په نامه پېژندل کیږي چې تعدیل شوی یا HIPAA. "شخصي استازی" کولی شي زما د ماشوم طبي سوابق وګوري، د طبي چمتو کوونکو او بیمه کوونکو یا نورو دریمو اړخونو د محرمو معلوماتو خپرول اجرا کړي او د HIPAA له مخې د روغتیايي پاملرنې د افشا کولو لپاره به "شخصي استازی" وګڼل شي. دغه اجازه او د افشا کولو رضایت به عملي شي، که زه د باخبره رضایت ورکولو وړتیا ولرم یا یې هم ونه لرم او د دغه سند په لاسلیکولو سره سمدلاسه نافذ کیږي.

دغه راز تر پوښښ لاندې ادارو ته رضایت ورکوم او لارښوونه ورته کوم چې زما د ماشوم خوندي روغتیايي معلومات "شخصي استازي" ته د هغه یا هغې له غوښتنې سره سم هر وخت ورکړي.

زه حق لرم چې دغه استازولي هر وخت نورو اړخونو ته له خبرتیا پرته په لیکلي توګه لغوه کړم. هیڅ استازی باید اړ نه وي چې په هیڅ قضايي حوزه کې کوم باند، تضمین یا بل امنیت ثبت یا وړاندې کړي. د دغې استازولۍ فوټوکاپي، فکسمیلي او ډیجیټل یا نورو بیا تولید بڼو په ګډون به د اصلي هغه په څېر ځواک او اغیزه ولري. اراده لرم چې یاده ټاکنه دې په ټولو هغو ایالتونو او هېوادونو کې عملي شي چې زما ماشومان یا پورته ذکر شوي استازي پکې اوسي.

# د اوږدمهاله سرپرست (سرپرستانو) ټاکل - 2 مخ

______________________________ ______________________________

د والدينو يا قانوني سرپرست لاسليک نېټه

پته:______________________________________________________________________

ښار، ایالت، زیپ:______________________________________________________________________

---

**<u>شاهدان :</u>**

**د 1 شاهد نوم:**______________________________________________________________________

______________________________ ______________________________

لاسليک نېټه

پته:______________________________________________________________________

ښار، ایالت، زیپ:______________________________________________________________________

**د 2 شاهد نوم:**______________________________________________________________________

______________________________ ______________________________

لاسليک نېټه

پته:______________________________________________________________________

ښار، ایالت، زیپ:______________________________________________________________________

---

**<u>د رسمي اسناد د ثبت دفتر محرر:</u>**

ایالت ________________________ کاونټي ________________________

ګډون يي کړی او قسم يي ياد کړی يا تر ما مخکې د لاندې کسانو لخوا تایید شوي

________________________________________________والدين يا قانوني سرپرست،

او ________________________________________________

او ________________________________________________ شاهدان ,

د والدينو يا قانوني سرپرست په خپله خوښه عمل په توګه

________په ورځ ______________________کال_________.

________________________________________________

د رسمي اسنادو د ثبت دفتر د محرر لاسليک

________________________________________________

د رسمي اسنادو د ثبت دفتر د محرر روښانه نوم

زما کار په لاندې نېټه پای ته رسي: ______________________________

# APPOINTMENT OF LONG-TERM GUARDIAN(S)

I, ________________________________________________, am the parent or legal guardian of:
(your name)

**Children's names (if under 18 years of age)** **Birthdates**

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

I revoke all prior nominations of guardianship I may have executed. I appoint the following in the order listed below to act as guardian of the above-named children if I am unable to care for my children:

**Guardian's name** **Phone number**

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

______________________________________________ ____________

Upon my disability, death, immigration detention, deportation, or other unavailability of any kind, the designated guardian shall have the authority to make all decisions relating to the care of my children, including but not limited to decisions concerning residential custody of my minor children; approving or disapproving medical treatment that is proposed or available for my children; making educational decisions and accessing their educational records, and all other decisions pertaining to my children's care and custody. If I should return from disability, detention, deportation, or any other unavailability, I retain the right to revoke this guardianship appointment at any time.

The above-named guardians shall be designated as a "personal representative" of my children as defined by Public Law 104-191 and supporting CFRs, otherwise known as the Health Insurance Portability and Accountability Act of 1996, as amended, or HIPAA. A "personal representative" may view my child's medical records, execute releases of confidential information from medical providers and insurers or other third parties, and shall be considered as a "personal representative" for health care disclosure under HIPAA. This authorization and consent to disclosure shall apply whether or not I continue to have the capacity to give informed consent, and is effective immediately upon signing of this instrument.

I further consent to and direct covered entities to provide my child's protected health information to a "personal representative" at any time upon his or her request

I reserve the right to revoke this delegation at any time in writing without notice to any of the parties. No delegate shall be required to file or furnish any bond, surety or other security in any jurisdiction. Photocopies of this delegation, including facsimiles and digital or other reproductions, will have the same force and effect as the original. I intend for this appointment to be enforced in any and all states and countries in which my children or the above named delegates reside.

# APPOINTMENT OF LONG-TERM GUARDIAN(S) - Page 2

_____________________________________________ ____________
Signature of Parent or Legal Guardian Date

Address: ______________________________________________

City, State, ZIP: ______________________________________________

**WITNESSES:**

**Name of Witness 1:** ______________________________________________

_____________________________________________ ____________
Signature Date

Address: ______________________________________________

City, State, Zip: ______________________________________________

**Name of Witness 2:** ______________________________________________

_____________________________________________ ____________
Signature Date

Address: ______________________________________________

City, State, Zip: ______________________________________________

**NOTARY:**

STATE OF ____________ COUNTY OF ____________

Subscribed and sworn to or affirmed before me by

______________________________, Parent or Legal Guardian,

and ______________________________

and ______________________________ Witnesses,

as the voluntary act of the Parent or Legal Guardian this

_____ day of ____________ in the year _____.

______________________________
Notary Public's Signature

______________________________
Notary Public's Printed Name

My commission expires: ______________________

## 2. مالي چارې معمې دي

یو داسې څوک انتخاب کړئ چې بشپړ باور پرې لرئ ترڅو ستاسو مالي چارې مدیریت کړي، که یې تاسو نه شئ کولئ. دغه کس کولی شي د بېلونو ادا کولو لپاره ستاسو پیسې وکاروي لکه:

- کرایه
- د موټر تادیه
- د ښوونځي لګښتونه
- ستاسو او د ماشومانو طبي بېلونه
- نور لګښتونه

ډاډمنه کړئ چې هغه کس چې تاسو یې انتخابوئ، د مسوولیت اخیستو ته راضي دی.

په راتلونکو درېو مخونو کې "د مالي چارو دوامداره وکالتنامه" فورمې ډکه کړئ.

- د دوو شاهدانو په مخ کې یې لاسلیک او نېټه ورکړئ.
- که غواړئ چې محرر یې ثبت کړي، د فورمې لاسلیکولو او نېټې ورکولو ته تر هغه صبر وکړئ چې له یوه محرر سره وئ.



**د مالي وکالتنامې فورمې په اړه تکراري پوښتل شوې پوښتنې**

**پوښتنه: که دغه فورمه بشپړه کړم، ایا پر خپلو مالي چارو به کنټرول له لاسه ورکړم؟**
ځواب: نه. دغه فورمه یوازې هغه وخت فعاله کېږي چې تاسو د ناروغۍ له امله مالي پرېکړې نه شئ کولی یا که تاسو د ICE لخوا توقیف یا ډیپورټ شوي وئ. تر هغه وخته پر خپلو مالي چارو کنټرول لرئ.

**پوښتنه: بیا وروسته پر خپلو مالي چارو کنټرول بېرته لاسته راوړی شم؟**
ځواب: هو. کولی شئ دغه فورمه هر وخت لغوه کړئ، که مو حالت بدل شي او بېرته خپلې مالي چارې مدیریت کړی شئ.

**پوښتنه: که واده ولرم، ایا زه او مېرمن/خاوند مې هر یوه جلا فورمې ډکې کړو؟**
ځواب: که هر یو جلا مالي شتنمې لرئ، نو ځواب هو دی. که مو شتمنۍ شریکې وي، نو یوازې یو کس یې باید ډکه کړي.

# FINANCIAL DURABLE POWER OF ATTORNEY

**KNOW ALL MEN BY THESE PRESENTS**, that

[Your name] ________________________________________________ (Principal) has made, constituted, and appointed, and by these presents does make, constitute, and appoint

[Name of the person you are appointing) ____________________________________ (Agent) as true and lawful attorney for Principal and in the name, place and stead of Principal, to make financial decisions for Principal, if and when Principal is unable or is incapacitated or incompetent, as certified by one or more physicians or psychiatrists, or is unable to act due to immigration detention or deportation

If Agent listed above is not available, not willing or is unable to act as my Agent, then I appoint the following person(s) to serve, in the order listed below:

______________________________ (Agent),

______________________________ (Agent).

When in effect, this Power is given to enable the Agent to hold and administer all of the assets of the Principal, both real estate and personal property, and this Power includes the right to perform all of the following functions: To purchase flower bonds; to form corporations and other entities; to reorganize corporations and other entities of which Principal is a stockholder, member or other party; to purchase, cancel or renew life, health, long term care or other insurance or annuities without the necessity of seeking court approval; to allow the Agent to make tax-free gifts of the Principal's assets; to authorize the Agent to claim or disclaim property interests which the Principal may be entitled to receive; to fund revocable trusts of which the Principal is trustor or settlor; to buy and sell and transfer real estate, securities and other investments or property; and to do all other acts which the Agent deems to be in the best interest of the Principal, including, but not limited to, the following:

1. The Agent is specifically given the power to perform all of the tasks which the Principal would perform for and on behalf of the Principal and in addition thereto the Agent is given the power to act as Guardian for the Principal and the Principal hereby appoints the Agent as Guardian for the Principal during times when the Principal is incapable of acting.

2. Agent is specifically given the power to manage the financial affairs of the Principal, including managing real estate, investments, bank accounts, retirement accounts, records, personal property, collecting income and benefits, selling of assets including a motor vehicle as required to meet additional expenses of the Principal, and reinvesting income and proceeds received from investments.

3. Agent is specifically given the power to pay bills and other obligations of Principal, and to pay those bills on a current basis. Agent is given authority to borrow money in order to meet obligations rather than liquidate assets at depressed prices. Agent is specifically given the power to borrow from banks and insurance companies or other sources as needed.

4. Agent is specifically given authority to operate, continue, dissolve, merge or sell any business that the Principal may own, and to use all assets that may be necessary to fulfill this decision, even those assets not previously committed to the business.

5. Agent is specifically given authority to create trusts and to manage Principal's security holdings, and to employ or discharge professional financial advisors and managers if the Agent believes this to be important. Agent is authorized to transfer securities to the trustee for continued management in the trust. Agent is further given authority to withdraw assets from the trust to meet the needs of the Principal. Securities and other investments shall be managed in a prudent manner. If income is needed, investments should emphasize income generation. In addition, Agent is given the authority to transfer assets from the Principal's name to any revocable living trust that Principal may have established during Principal's life.

# FINANCIAL DURABLE POWER OF ATTORNEY- Page 2

6. Agent is specifically given authority to commence any litigation for and on behalf of Principal or to continue any litigation for and on behalf of Principal. Agent is specifically given the power to prosecute or defend claims, including the right to settle matters and grant releases. Agent is specifically given the authority to employ or discharge attorneys and to make binding arrangements on behalf of Principal.

7. Agent is specifically given the authority for filing tax returns and handling all other matter related to the Principal's taxes, including handling tax disputes with the Internal Revenue Service. Agent is given specific authority to represent the Principal in tax matters including the right to sign Internal Revenue Service Power of Attorney, Form 2848.

8. Agent shall keep a record of all financial decisions and transactions made. Agent shall be entitled to receive reasonable compensation of $_________ per hour for services rendered. [May be left blank.]

9. Agent shall be authorized to see and copy any books, records, files, and papers of the Principal, including any will, trust, other estate planning documents, insurance policies and annuities.

The Principal exonerates the Agent from liability for all non-negligent acts of the Agent.

This Financial Power of Attorney shall take effect if Principal is incapacitated or incompetent, as certified by one or more physicians or psychiatrists, or is in immigration detention or deportation and shall be durable and remain in effect while Principal remains unable to act, or until revoked. Upon execution of this Financial Power of Attorney, any Financial Power of Attorney previously executed by Principal shall be revoked. All acts done by Agent pursuant to the powers conferred herein, during any period as described above, shall have the same effect and inure to the benefit of and bind the Principal or his/her heirs, devisees and Personal Representative, as if the Principal was present and competent and not incapacitated;

GIVING AND GRANTING unto said Agent full power and authority to do and perform all and every act and thing whatsoever requisite and necessary to be done, as fully to all intents and purposes as the Principal might or could do if personally present and able; hereby ratifying and confirming all that said Agent shall lawfully do or cause to be done by virtue of these presents.

IN WITNESS WHEREOF, the hand and seal of Principal has hereunto been affixed:

**BY SIGNING HERE, I INDICATE THAT I UNDERSTAND THE PURPOSE AND EFFECT OF THIS DOCUMENT.**

________________________________________________ ______________

Principal's signature Date

---

**<u>WITNESSES</u>:**

**Name of Witness 1:** ____________________________________________

________________________________________________ ______________

Signature Date

Address: ____________________________________________

City, State, Zip: ____________________________________________

# FINANCIAL DURABLE POWER OF ATTORNEY- Page 3

**WITNESSES:**

**Name of Witness 2:** ______________________________________________

______________________________________________ ______________
Signature Date

Address: ______________________________________________

City, State, Zip: ______________________________________________

**NOTARY:**

STATE OF______________ COUNTY OF ______________

Subscribed and sworn to or affirmed before me by

______________________________________________, Principal,

and ______________________________________________

and ______________________________________________ Witnesses,

as the voluntary act of the Principal this

________ day of __________________ in the year ________.

______________________________________________
Notary Public's Signature

______________________________________________
Notary Public's Printed Name

My commission expires: ______________________________

# د مالي چارو دوامداره وکالتنامه

**په دې تسلیمۍ سره ټول سړي وپېژنۍ چې**

[ستاسو نوم] ________________________________________(موخن کس) جوړ کړی، تشکیل کړی او

[د هغه کس نوم چې تاسو یې ټاکی ________________________________________استازی)
د موخن کس لپاره د سم او قانوني وکیل په توګه او د موخن کس په نامه، ځای او ځای کې ټاکئ، ترڅو د موخن کس لپاره مالي پرېکړې وکړي، که او په هغه صورت کې چې مدیر نه شي کولی یا ظرفیت ونه لري، چې یوه یا ډېرو ډاکټرانو یا r روانې ډاکټرانو تصدیق کړې وي یا د کډوالۍ توقیف یا ډیپورټ له امله د عمل کولو توان ونه لري.

که پورته ذکر شوی استازی نشته وي، راضي نه وي یا زما د استازي په توګه د کار کولو توان ونه لري، نو زه لاندې کس (کسان) د لاندې لیست شوي ترتیب سره سم د کار کولو لپاره ټاکم:

________________________________________( استازی) ،

________________________________________( استازی) ،

کله چې دغه واک په عمل کې وي، نو استازي ته د دې توان ورکول کېږي چې د موخن کس ټولې شتمنۍ، دواړه املاک او شخ r صي ملکیت، وساتي او اداره یې کړي او په دغه واک کې د لاندې ټولو دندو ترسره کولو حق شامل دی: ګلدانۍ پېرودل؛ د شرکتونو او نورو ادارو جوړول؛ د هغو شرکتونو او نورو ادارو بیا ځلي تنظیمول چې موخن کس یې ونډه لرونکی، غړی یا بل اړخ دی؛ د محکمې له تایید پرته د ژوند، روغتیا، اوږدمهاله پاملرنې یا نورو بیمو یا کلنیو پیسو پیرود، لغوه کول یا بیا ځلي نوي کول؛ استازي ته اجازه ورکول چې د موخن کس له شتمنیو څخه مالیه نه لرونکې ډالۍ جوړې کړي؛ استازي ته واک ورکول چې د ملکیت داسې سود ادعا وکړي یا یې رد کړي چې موخن کس یې د ترلاسه کولو حق لري؛ د لغوه کېدونکو امانتونو تمویل چې مدیر یې امانتدار یا تنظیموونکی دی؛ د املاکو، تضمیناتو او نورو پانګوونو یا ملکیت پېرود او پلور او لیږد کول او دغه راز ټول هغه نور اعمال ترسره کول چې استازی یې د موخن کس په غوره ګټه ګڼي او لاندې موارد پکې شامل دي خو تر دوی پورې محدود نه دي:

1.استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې ټولې هغه دندې ترسره کړي چې موخن کس به یې د موخن کس لپاره او د هغه په استازیتوب ترسره کوي او سربېره پر دې استازي ته دا واک ورکول کېږي چې د موخن کس لپاره د سرپرست په توګه عمل وکړي او موخن کس په دې توګه استازی د موخن کس لپاره د سرپرست په توګه ټاکي کله چې موخن کس د عمل کولو توان ونه لري.

2. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د موخن کس مالي چارې مدیریت کړي، چې د املاکو، پانګوونې، بانکي حسابونو، تقاعد حسابونو، سوابق، شخصي ملکیت مدیریت، د عاید او ګټو راټولول، د شتمنیو پلورل، د خوځنده لېږدونکو وسیلو په ګډون څنګه چې د موخن کس د اضافي لګښتونو پوره کولو لپاره اړین وي او د پانګوونې څخه ترلاسه شوی عاید او عاید بیا پانګونه کول پکې شامل دي.

3.استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د موخن کس بېلونه او نور مکلفیات تادیه کړي او دا چې یاد بېلونه په اوسني اساس تادیه کوي. استازي ته واک ورکول کېږي چې په کمو نرخونو کې د شتمنۍ پر نغدو بدلولو پر د مکلفیتونو پوره کولو لپاره پیسې پور کړي. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د اړتیا په صورت کې له بانکونو او بیمې شرکتونو یا نورو سرچینو څخه پور واخلي.

4.استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې هر هغه کاروبار چې مدیر یې لري، وچلوي، دوام ورکړي، منحل یې کړي، یو ځای کړي یا یې هم وپلوري او د دغې پرېکړې ترسره کولو لپاره ټولې اړینې شتمنۍ وکاروي، حتی هغه شتمنۍ چې مخکې یې کاروبار ته نه وې ځانګړې شوې.

5.استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د موخن کی امانتونه جوړ کړي او امنیتي ملکیتونه یې اداره کړي او که استازی مهم وګڼي، نو مسلکي مالي سلاکاران او مدیران پر کار وګوماري یا یې ترې ګوښه کړي. استازی اجازه لري چې په امانت کې د دوامدار مدیریت لپاره تضمینات امانتدار ته ولېږدوي. استازی دا استازی اجازه هم لري چې د موخن کس اړتیاوو پوره کولو لپاره له امانت څخه شتمنۍ وباسي. تضمینات او نورې پانګوونې باید په احتیاط سره مدیریت شي. که عاید ته اړتیا وي، پانګوونکې باید د عاید پر تولید تاکید وکړي. برسېره پر دې استازي ته دا واک ورکول کېږي چې د موخن کس له نامه څخه شتمنۍ هر هغه بیرته اخیستو وړ ژوندي باور ته ولېږدوي چې موخن کس د یاد موخن کس په ژوند کې رامینځته کړی وي.

# د مالي چارو دوامداره وکالتنامه - 2 مخ

6. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د موخن کس لپاره او د هغه په استازيتوب هر ډول دعوی پیل کړي یا د موخن کس لپاره او د هغه په استازيتوب هر ډول دعوی ته دوام ورکړي. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې ادعاوې اجرا کړي یا یې دفاع وکړي چې د مسلو د حل او مالي مرستو خوشي کولو حق پکې شامل دی. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې وکیلان پر کار وګوماري یا یې ګوښه کړي او د موخن کس په استازيتوب اړین ترتیبات ونیسي.

7. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې مالیاتي اظهارنامې ثبت او د موخن کس تر مالیاتو پورې نورې اړوندې مسلې مدیریت کړي او د داخلي عوایدو له خدمتونو سره د مالیې شخړو سمبالول پکې شامل دي. استازي ته په ځانګړي ډول واک ورکول کېږي چې د مالیې په چارو کې د موخن کس استازيتوب وکړي چې د داخلي عوایدو خدمتونو د واک لاسلیک کولو حق، فورمه 2848 پکې شامله ده.

8. استازی باید د ټولو مالي پرېکړو او مالي لېږدونو سوابق وساتي. استازی به مستحق وي چې  د وړاندې شوو خدمتونو لپاره $_____جبران ترلاسه کړي. [خالي پرېښودل کېدی شي.]

9. استازي ته به اجازه ورکړل شي چې د موخن کس هر ډول کتابونه، سوابق، دوسیې او کاغذونه وګوري او کاپي یې کړي، د هر ډول وصیت، امانت، د ملکیت د پلان جوړولو نور اسناد، د بیمې پالیسی او کلنی جایدادونه پکې شامل دي.

موخن کس د استازي د ټولو غیر بې پروایي کړنو له مسووولیت څخه استازی معاف کوي.

دغه مالي وکالتنامه به هغه وخت نافذه شي کله چې مدیر ظرفیت یا وړتیا ونه لري، څنګه چې یو یا ډېر ډاکټران یا رواني ډاکټران یې تایید کړي، یا د کډوالی په توقیف یا ډیپورټ وي او دوامدار وي او په هغه وخت کې نافذ وي، کله چې مدیر د عمل کولو توان ونه لري، یا تر هغه وخته پورې چې لغوه شي. د دغې مالي وکالتنامې د اجرا پر وخت د موخن کس لخوا هر ډول پخوانی ترسره شوې مالي وکالتنامې لغوه کیږي. ټول هغه اقدامونه چې د استازي لخوا د پورته ذکر شوې مودې په بهیر کې د تفویض شوو واکونو سره سم ترسره کیږي، باید د موخن کس یا د هغه د وارثانو، جوړونکو او شخصي استازي په ګټه ورته اغېزه ولري او دوی ته پابند وي، څنګه چې موخن کس حاضر او وړ و او بې ظرفیته نه و؛

یاد شوي استازي ته د ټولو او هر هغو کړنو او شیانو د ترسره کولو بشپړ واک او اجازه ورکول چې هر هغه څه چې اړین او ضروري وي چې په بشپړ ډول د ټولو موخو او اهدافو لپاره داسې ترسره شي لکه موخن کس یې ښایي ترسره کوي یا یې ترسره کولی شي که په شخصي توګه حاضر وياو توان ولري؛ په دې توګه د ټولو هغو تصدیق او تایید کول چې یاد شوي استازي به په قانوني ډول د دې تسلیمیو له مخې ترسره کړي یا یې د ترسره کېدو سبب شي.

په دې شاهدۍ سره د موخن کس لاس او مهر دلته لګول شوی دی:

**زه دلته په لاسلیک کولو په ګوته کوم چې د دغه سند پر موخې او اغیز پوهیږم.**

_______________________________________ _______________

د موخن کس لاسلیک نېټه

**<u>شاهدان</u> :**

**د 1 شاهد نوم:**_______________________________________

_______________________________________ _______________

لاسلیک نېټه

پته:_______________________________________

ښار، ایالت، زیپ:_______________________________________

# د مالي چارو دوامداره وکالتنامه - 3 مخ

**شاهدان** :

**د 2 شاهد نوم:**______________________________________________________________________________

________________________________________ ________________________________________
لاسلیک نېټه

پته:______________________________________________________________________________

ښار، ایالت، زیپ:__________________________________________________________________________

**د رسمي اسناد د ثبت دفتر محرر:**

ایالت____________________ کاونټي____________________

ګډون یې کړی او قسم یې یاد کړی یا تر ما مخکې د لاندې کسانو لخوا تایید شوي

________________________________________________________________________، موخن کس،

او ________________________________________________________________________

او ________________________________________________________________________شاهدان،

د والدینو یا قانوني سرپرست په خپله خوښه عمل په توګه

________په ورځ ______________________کال__________________.

________________________________________________________________________
د رسمي اسنادو د ثبت دفتر د محرر لاسلیک

________________________________________________________________________
د رسمي اسنادو د ثبت دفتر د محرر روښانه نوم

زما کار په لاندې نېټه پای ته رسي:______________________________

# 2 برخه: ایا تاسو یو کډوال یاست؟ پر خپلو حقونو پوه شئ








### هر څوک مشخص اساسي حقونه لري...

# پر خپلو هغو پوه شئ

په متحده ایالتونو هر اوسېدونکی کس د کډوالی وضعیت ته له پام پرته مشخص اساسي حقونه لري. دغه حقونه د امریکا د اساسي قانون لخوا خوندي شوي دي او د تبعیض او جرم پر وړاندي ساتنه پکي شامله ده.

- که تاسو د تبعیض یا جرم قرباني یاست، نو باید د Boulder کاونټۍ د حوزوي څارنوالی دفتر، پولیسو، یا شریف سره له اړیکي نیولو ونه وېرېږئ. دوی هسپانوي ژبي کارکوونکي لري او ستاسو د کډوالی وضعیت په اړه به پوښتنه ونه کړي یا دا چې معلومات مو د کډوالی له چارواکو سره شریک نه کړي.
- د تبعیض یا جرم په مثالونو کي لاندي موارد شامل دي:
  - د خپل ګومارونکي لخوا د ژمنه شوي معاش نه درکول کېدل.
  - جنسي یا کورنی ناوړه ګټه اخیستنه تجربه کول.
  - داسي حالت چي د کور خاوند تاسو ته له کرایي درکولو انکار وکړي یا تاسو څخه له دي خاطره اضافي پیسي اخلي چي تاسو کډوال یاست.
  - یو څوک مو کور یا موټر په کرکي ډکو الفاظو سره ویجاړوي.

دغه راز کولی شئ د مرستي لپاره CIAM (Centro de Información y Asistencia a Personas Mexicanas)، د 24/7 مرستي مرکز سره د 1-520-623-7874 له لاري هم د مرستي لپاره زنګ ووهئ.

## د کورنۍ د چمتووالي پلان جوړ کړئ

که کډوال یاست او ماشومان لرئ، نو د دغه لارښود په پیل کي د "ایا تاسو ماشومان لرئ؟" برخه کي ورکړل شوي ګامونه تعقیب کړئ. یاده برخه تشریح کوي چي څنګه د بیړني حالت په صورت کي خپله کورنۍ چمتو کړئ. دغه مشوره د ټولو والدینو لپاره ده، نه یوازي د هغو کسانو لپاره چي اسناد نه لري.

## پر خپلو حقونو پوه شئ

که تاسو یو بې اسنادو کډوال یاست یا داسي څوک پېژنئ چي اسناد ونه لري، نو راتلونکي برخه ستاسو لپاره ده. یاده برخه تشریح کوي چي څه وکړئ، که **ICE (د کډوالی او ګمرکونو اجرایه)** له تاسو سره اړیکه ونیسي.

## د کډوالۍ او قانوني معلومات ترلاسه کړئ

په وروستی برخه کي به پوه شئ چي د کډوالی مسلو په اړه معلومات له کوم ځای څخه ترلاسه کړئ او څنګه په خپله سیمه کي د باوري سازمانونو یا وکیلانو څخه قانوني مشوره ترلاسه کړئ.

# که د کډوالۍ استازی اړیکه درسره نیسي، پر خپلو حقونو پوه شئ!

که د **کډوالۍ او ګمرکونو اجرایي (ICE)** افسران له تاسو سره اړیکه ونیسي، نو په یاد ساتئ چې تاسو حقونه لرئ، که تاسو اسناد ولرئ که نه. هغه څه چې تاسو یې ترسره کولی شئ، په لاندې ډول دي:



- که د ICE افسران له تاسو سره اړیکه ونیسي، که په کور، کار، موټر، بس کې وئ، د خوراکي توکو په هټۍ بانک کې وئ - له هغوی سره خبرې مه کوئ.
- اړ نه یئ چې هرې پوښتنې ته ځواب ورکړئ او دوی نه شي کولی تاسو خبرو کولو ته اړ کړي. دا د ICE دنده ده چې ثابته کړي چې تاسو څوک یاست او چېرته زیږېدلي یاست - نو اړ نه یئ چې له دوی سره مرسته وکړئ.
- هیڅکله د ICE پوښتنو ته دلهوکیل سره له خبرو پرته ځواب مه ورکوئ.
- که د ICE افسر درته مراجعه وکړي:
  - چوپ پاتې شئ. ساده ورتهووایئ: "زه غواړم چوپ پاتې شم."
  - مه تښتئ. تښتېدل ICE ته فرصت ورکوي چې ومو نیسي.
  - دورغ مه وایئ یا ناسم اسناد مه ورکوئ.
  - مه وایئ چې په کوم ځای کې زیږېدلی یو یا دا چې څنګه امریکا ته راغلو.

## *"پر خپلو حقونو پوه شئ (Know Your Rights)" کارت له ځان سره ګرځئ.*

- لاندې کارت پرې کړئ او تل یې له ځان سره وساتئ.
- که چیرې ICE راشي، نو کارت ورته وښیئ او غلی پاتې شئ.

**د کډوالۍ یا بل افسر ته:**

اوس زه د خپلو قانوني حقونو څخه د ګټې اخیستنه غوره کوم.

- زه به غلی پاتې شم او ستاسو پوښتنو ته د ځواب ورکولو څخه به ډډه وکړم.
- که زه توقیف شم، نو حق لرم چې سمدلاسه له وکیل سره اړیکه ونیسم.
- زه د وکیل له مشورې پرته د هر شي له لاسلیک کولو څخه انکار کوم.

# پر خپلو حقونو پوه شئ!

## *د ICE استازي ته دروازه مه پرانيزئ‌مه پرانيزئ*

- تاسو اړ نه یئ چې د ICE استازي سره د خبرو کولو لپاره خپله دروازه پرانیزئ.
  کله مو چې پرانیسته، نو د دوی د پوښتنو ځوابولو څخه ډډه کول ګران دي.
- په خپل کور کې ټولو ته، د ماشومانو په ګډون ووایاست چې دروازه مه پرانیزئ.
  هغوی ته په یاد ور وستو لپاره یوه نښه اېښوداې شئ.
- که ICE مو دروازې ته راشي، نو له هغوی وغواړئ چې خپله پېژندپاڼه له کړکۍ څخه
  پورته کولو یا د دروازې لاندې کیښودلو سره وښیي.
- که استازی ووایي چې د نیولو حکم راسره دی، نو وغواړئ چې دا په ورته ډول وګوري.
- د نیولو حکم په پام سره وڅیړئ ځکه چې بېلابېل ډولونه یې شته دي. تر هغه چې پوه
  نه شئ چې دا څه ډول حکم دی، ځواب مه ورکوئ.
- که استازی د پلټنې امر، د دیپورټ امر یا د **مهاجرت افسر یا محکمې څخه د ایستلو امر ولري، نو تاسو اړ نه یئ چچې خپله دروازه پرانیزئ.**
- د حکم تر لاسلیک لاندې وګورئ ترڅو پوه شئ چې ایا دا یوازې **کډوالۍ ته اشاره کوي.**
  که همداسې وي، نو په ادب سره د ICE استازي ته ووایئ چې د نیولو حکم
  د قضایي محکمې قاضي نه دی لاسلیک کړی، دروازه به نه پرانیزئ.
- باید یوازې هغه وخت خپله دروازه پرانیزئ چې استازی د پلټنې امر یا د نیولو امر ولري چې
  ستاسو نوم پرې شته وي او **د قضایي محکمې قاضي** لاسلیک پرې کړی وي. وګورئ چې پر
  حکم باندې تر لاسلیک لاندې کرښه وایي چې دا **ایالتي یا حوزوي قاضي دی.** (د ICE استازي
  تقریبا هیڅکله دا ډول حکم نه لري.)
- که امر **د قضایي محکمې قاضي** لخوا راغلی وي، نو تاسو باید له استازي سره همکاري
  وکړئ او د لارښوونې سره سم ځواب ورکړئ. له استازي سره د خبرو کولو لپاره له
  خپلې دروازې بهر راووځئ.



## *تاسو حق لرئ چې له وکيل سره خبرې وکړئ*


- ICE ښایي هڅه وکړي چې پر تاسو باندې یو څه لاسلیک کړئ ترڅو د وکیل یا قاضي سره د خبرو کولو حق له لاسه ورکړئ.
- که تاسو پر کوم څه نه پوهیږئ نو هیڅکله یې مه لاسلیکوئ.
- اړ نه یئ چې هر څه لاسلیک کړئ. کولی شئ ووایاست: "زه به یې واخلم او خپل وکیل ته به یې وښیم، خو زه به یې همدا اوس لاسلیک نه کړم."


## *تاسو حق لرئ چې له وکيل سره خبرې وکړئ*

- ICE ښایي هڅه وکړي چې پر تاسو باندې یو څه لاسلیک کړئ ترڅو د وکیل یا قاضي سره د خبرو کولو حق له لاسه ورکړئ.
- که تاسو پر کوم څه نه پوهیږئ نو هیڅکله یې مه لاسلیکوئ.
- اړ نه یئ چې هر څه لاسلیک کړئ. کولی شئ ووایاست: "زه به یې واخلم او خپل وکیل ته به یې وښیم، خو زه به یې همدا اوس لاسلیک نه کړم."

# پر خپلو حقونو پوه شئ!

## *تل د کډوالۍ معتبر اسنا له ځان سره وګرځوئ*



- د پیژندنې لپاره معتبر اسناد لکه ویزه، د کار جواز یا ګرین کارت له ځان سره وساتئ.
- بهرني کاغذونه (د مثال په توګه بهرني پاسپورټ) مه ګرځوئ، ځکه چې د اخراج پرمهال ستاسو پر ضد کارول کیدی شي.
- هیڅکله ناسم هویت یا د کډوالۍ اسناد مه له ځان سره وړئ.

## *که فکر کوئ چې ICE ممکن مو ونیسي یا مو توقیف کړي، مخکې له مخکې پلان جوړ کړئ*

- د کورنۍ د چمتووالي پلان کې هغه ګامونه پورته کړئ چې مخکې په دغه لارښود کې ذکر شوي دي.
- ډاډمنه کړئ چې ستاسو کورنۍ او د بیرني اړیکو کسان پوهیږي چې که توقیف شي نو تاسو څنګه ومومي.
- که د تطبیق وړ وي، نو خپل A-نمبر (د کډوالۍ په اسنادو کې د "A" سره پیل کېدونکی 9 عددي بهرنیانو د نوملیکنې شمیره) ورته ورکړئ.
- کورنۍ د ICE د توقیف ځای په کارولو سره توقیف شوي کسان په لاندې لینک کې پیدا کولی شي: https://locator.ice.gov/odls/homePage.do.
- په کولوراډو کې توقیف شوي کسان د ICE GEO اورورا تاسیساتو ته لیږل کیږي:
  - پته: 3130 N. Oakland St., Aurora, CO 80010

- د کورنۍ غړي خپلوانو ته لاندې شمېرې ته په زنګ وهلو سره زنګ ووهي: 3661-612 (303) او په نامه سره یاد کس وغواړي.
- ICE ممکن ستاسو د خپلوانو د بهرنیانو د راجسټریشن شمیره وغواړي. یاده شمېره په A سره پیلېږي او په هر هغه کاغذ باندې شته ده چې کس ته د ننوتلو پر مهال ترلاسه کیږي.
- د کورنۍ بې اسناده غړي باید د خپلو خپلوانو لیدلو یا هلته د محکمې په استماعیه غونډه کې د ګډون لپاره دې مرکز ته لاړ نه شي.

## *که د ICE استازی ستاسو د نیولو په حال کې وي، نو افسر ته ووایئ چې ایا کوچنیو ماشومانو مو اسناد ثبت کړي دي که نه*

که تاسو د متحده ایالاتو د یوه ښاروند یا دایمي اوسیدونکي والدین یا اصلي پالونکي یاست چې عمر یې تر 18 کلونو کم وي، ICE ممکن "خپل اختیار وکاروي" او تاسو پرېږدي.



# پر خپلو حقونو پوه شئ!

***که تاسو چاپه یا نیول وګورئ، نو څه وکړئ***




- که خوندي وي او تاسو په فدرالي ودانۍ کې نه وئ، نو عکسونه یا ویډیوګانې واخلئ.
- مهم جزیات لکه د افسرانو نښان او د موټر شمیرې او نور هر هغه معلومات چې تاسو یې ګورئ؛ ولیکئ.
- له شاهد د اړیکو معلومات وغواړئ.
- که ټپي شوي وئ، د خپلو ټپونو عکسونه واخلئ.
- حالت لاندې پتې ته راپور کړئ:
  - CIRC (د کولوراډو د کډوالو حقونو ایتلاف): 844-864-8341
  - RMIAN (راکي ماونټین د کډوالو د ملاتړ شبکه): 303-866-9308
  - CIAM (Centro de Información y Asistencia a Personas Mexicanas): 1-520-623-7874 (24/7)

## پر خپلو حقونو لا زیات پوه شئ

- د CIRC (د کولوراډو د کډوالو حقونو ایتلاف) ته په لاندې لینک کې مراجعه وکړئ: https://coloradoimmigrant.org/
- د CIRC یا د کډوالو له نورو ځایي ډلو څخه روزنه واخلئ.
- په لاندې لینک کې د امریکا د کډوالۍ وکیلانو ټولنې څخه په ډیرو بېلابېلو ژبو کې لا زیات معلومات ترلاسه کړئ: https://www.aila.org/advo-media/tools/psas/know-your-rights-handouts-if-ice-visits

## که غواړئ بیرته خپل هیواد ته لاړ شئ

خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو لپاره د مرستې په پار لاندې لینکونه وګورئ:
https://www.justice.gov/eoir/page/file/1480811/dl
https://afsc.org/programs/colorado-immigrant-rights (Crossing South Resources ته ښکته ټیټ شئ)



# د کډوالۍ په هکله معلومات یا له وکیل څخه مرسته ترلاسه کول

## د کډوالۍ مسلو په هکله معلومات

- که تاسو لږ تر لږه 5 کلونو لپاره د **قانوني دایمي اوسیدونکي** (ګرین کارټ لرونکی) وئ، ښايي د متحده ایالتونو د ښاروندۍ لپاره اپلای وکړئ. کولی شئ د ښاروندۍ چمتووالي لپاره د El Comité de Longmont (303) - (6125-651) یا CIRC (720-593-2075) په څیر سازمانونو سره نوملیکنه وکړئ.
- دغه راز کولی شئ د **تبعه شوي امریکایی ښاروند کیدو لپاره هم اپلای وکړئ**، که:
  - تاسو د متحده ایالاتو له یوې تبعې سره واده کړی وي او لږ تر لږه د 3 کلونو لپاره د **قانوني دایمي اوسیدونکي وئ**.
  - تاسو په پوځ کې وئ یا مو میړمن\میره یا والدین په پوځ کې دي.
  - له والدینو څخه یو مو د متحده ایالاتو تبعه وي.
- له وکیل وپوښتئ چې ایا تاسو د ځان او خپلې کورنۍ د ساتنې لپاره لاندې کوم یو کولی شئ:
  - که تاسو پر ویزه په متحده ایالاتو کې وئ، نو پوښتنه وکړئ چې ایا ګرین کارټ ترلاسه کولی شئ.
  - که د کډوالۍ معتبر وضعیت نه لرئ، نو پوښتنه وکړئ چې ایا ویزه یا د کار اجازه ترلاسه کولی شئ.
  - که جرمي نیول یا محکومیت لرئ، پوښتنه وکړئ چې دغه چاره مو پر وضعیت څنګه اغیزه کولی شي او ایا ستاسو له سوابقو څخه د هغې د پاکولو لپاره کومه لاره شته که نه.
  - که تاسو توقیف شوي وئ یا د ډیپورټ کېدو تر پروسه لاندې وئ، نو د قاضي په مخ کې د استماعیې غوښتنه وکړئ ترڅو له توقیف څخه خلاص شئ او له خپل ډیپورټ کېدو سره مبارزه وکړئ.

**وکیل یا قانوني مرسته ترلاسه کول**

د خپلې کډوای د انتخابونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو یا له ډیپورټ کېدو څخه د ځان ساتلو لپاره له وکیلانو سره د ځایی غیر انتفاعي حقوقي خدمتونو له اداري سره اړیکه ونیسئ چې مرسته کولی شي. دغه راز کولی شئ د کډوالۍ د باور وړ شخصي وکیل سره هم اړیکه ونیسئ. د سازمانونو او سپارښتب شویو وکیلانو لیست وساتئ، که کوم وخت له ICE سره ستونزه پیدا کړئ.

## څنګه له وکیل څخه مرسته ترلاسه کړئ (کله ناکله "دفاهي وکیل" هم ورته وایي)

لاندې برخه (الف) هغه ځایي سازمانونه ذکر کوي چې کډوالو ته وړیا یا په ټیټ لګښت قانوني خدمتونه وړاندې کوي چې د کډوالۍ وضعیت او په ځینو مواردو کې د جرمي مسلو په اړه مشوره پکې شامله ده. ټول یاد سازمونه په هسپانوي ژبه خبرې کوونکي کارکوونکي لري. که تاسو له مخکې توقیف شوي وئ یا د ډیپورټ تر پروسې لاندې وئ یا که د نورو سختو قانوني ستونزو لپاره انفرادي وکیل ته اړتیا لرئ، لاندې په (ب) برخه کې د سپارښتل شویو وکیلانو لیست وګورئ.

### (الف) ځایي غیر انتفاعي سازمانونه چې د کډوالو لپاره وړیا یا په ټیټ لګښت قانوني خدمتونه وړاندې کوي

لاندې د Boulder کاونټي یا نږدې سیمو کې د هغو سازمانونو لیست دی چې وړیا یا په ټیټ لګښت د کډوالۍ خدمتونه وړاندې کوي. د هیڅ سازمان یا وکیل لخوا هیڅ تایید یا سپارښتنه نه کیږي. دغه لیست یوازې د دې لپاره وړاندې کیږي چې له تاسو سره د مرستې پلټلو پر وخت د انتخابونو په را محدودولو کې مرسته وکړي.

**El Comité de Longmont**
455 Kimbark St.
Longmont, CO 80501
د ټلیفون شمېره: (303) 651-6125
برېښنالیک: elcomite@elcomitedelongmont.org
ویب سایت: https://elcomitedelongmont.org/

- Pro bono وکیلان د El Comité په دفتر کې عادي لیدژمني نیسي او د کډوالۍ، جرمي، کوچنیو ادعاوو او د افلاس قانون په برخو کې مشورې وړاندې کوي.
- قانوني خدمتونه ته ارجاعګاني چمتو کوي
- له وکیل سره مشوره، 30$؛ نور خدمتونه وړیا، په ټیټ لګښت سره یا د بسپنې له لارې

**د Boulder کاونټۍ د کډوالۍ قانوني مرکز**
948 North St. #8
Boulder, CO 80304
د ټلیفون شمېره: (303) 444-1522
فکس: (303) 444-1667
برېښنالیک: info@boulderayuda.org
ویب سایت: www.boulderayuda.org :

- د کډوالۍ او کورنۍ مسلو په اړه په هسپانوي او انګلیسي ژبو شخصي او قانوني مشورې وړاندې کوي.
- د فورمو په ډکولو کې مرسته کوي او دغه راز د قضیو استازیتوب کوي لکه د وضعیت تنظیمول، قونسلګرۍ پروسس، تابعیت، د لنډمهاله محافظت شوي وضعیت نوي کول او د استوګنې شرایطو لرې کول.
- د مشورې فیس: 50$ (د Boulder کاونټۍ اوسیدونکو لپاره 40$)؛ نور فیسونه د اړتیا وړ خدمتونو پورې اړه لري.

**RMIAN (راکي ماونټین د کډوالو د ملاتړ شبکه)** In Chase
Bank, 7301 Federal Blvd., Suite 300
Westminster, CO 80030
د ټلیفون عمومي شمېره: (303) 433-2812
وېبسایټ: http://www.rmian.org

- د کډوالو ماشومانو او د کډوالۍ په توقیف ځایونو کې بالغ کسانو ته وړیا د کډوالۍ قانوني خدمتونه وړاندې کوي..

## (الف) ځایي غیر انتفاعي سازمانونه چې د کډوالو لپاره وړیا یا په ټیټ لګښت قانوني خدمتونه وړاندې کوي - ادامه

**SPAN (د تاوتریخوالي نه کولو لپاره د خوندي کور پرمختګ اتحاد، د کډوالو د ملاتړ پروګرام)**
موقعیت: 835 North Street
Boulder, CO 80304
دفتر (303) 449-8623
د بحران24 ساعته ټلیفون لیکه او بیړني سرپناه: (303) 444-2424 ویبسایت:
www.safehousealliance.org

- SPAN د کورني تاوتریخوالي له قربانیانو سره د کډوالۍ په مسلو کې مرسته کوي.
- دوی کډوال د قانوني مرستې په خیر سرچینو سره وصل کولی شي.
- SPAN د کډوالۍ کلینیکونه وړاندې کوي چې کولی شئ له کډوالۍ وکیل سره یکې په حضوري توګه د ناوړه ګټه اخیستنې اړوند مسلو په اړه خبرې وکړئ.

**د کولوراډو پوهنتون د حقوقو ښوونځی، د جرمونو/کډوالۍ دفاع کلینیک**
ارتباطي کس: ښوونکې Violeta Chapin
موقعیت: University of Colorado Law School, Clinical Programs
Wolf Law Building
Boulder, CO 80304
د ټلیفون شمېره: (303) 492-5830
بریښنالیک: Violeta.chapin@colorado.edu

- ښوونکې، Chapin او د هغې د حقوقو زده کوونکي د هغو غیر اتباعو سره مرسته کوي چې جرمي او کډوالۍ په برخه کې قانوني ستونزې لري.
- دغه کلینیک له هغو خلکو سره هم مرسته کوي چې د DACA وضعیت لري.

## (ب) د کډوالۍ انفرادي وکیلان

که تاسو نیول شوي، توقیف شوي یاست، د ډیپورټ تر پروسې لاندې یاست یا د کډوالۍ نورې جدي ستونزې لرئ، دلته ځینې ځایي وکیلان دي. یاد وکیلان په هسپانوي ژبه خبرې کوي. مونږ باید د فیسونو پوښتنه ترې وکړو.

- Sandra Saltrese-Miller Boulder): 303-442-8554، www.saltreselaw.com
- Ian McKinley Longmont): 720-386-4500، http://www.mckinleylegal.com
- Hans Meyer Denver): 0817-831-303، http://themeyerlawoffice.com
- Catherine Chan Denver)، چې فارسي ژبه هم خبرې کولی شي): 303-586-5555، http://www.chanimmigration.com
- Kimberly Baker Medina Fort Collins): 970-388-3332، http://www.immigrationlawfortcollins.com
- Samuel Ronquillo (Boulder), 970-400-7007, https://ronquillolawfirm.com/en\

د نورو وکیلانو لپاره په لاندې لینک کې امریکا د کډوای وکیلانو د ټولنې (AILA) ویبسایټ ته هم مراجعه کولی شئ ترڅو یو نږدې ومومئ: http://www.ailalawyer.com.

## د Boulder کاونټۍ لپاره ګټور انلاین لېستونه




کولی شئ په دغه وېبسایټ کې د قانوني مرستې په ګډون د کډوالو لپاره ډېرې سرچینې ومومئ:

- د Boulder کاونټۍ د کډوالو سرچینې
https://www.bouldercounty.org/government/about-boulder-county/immigrant-resources/
په انګلیسي ژبه کې یې لیدلی شئ یا د هسپانو نسخې لپاره پر "Spanish" کلېک وکړئ.

تاسو کولی شئ د Boulder کاونټۍ د ټولنې خدمتونو ته په 303-441-3560 شمېرې سره زنګ ووهئ او یوه کاپي وغواړئ.

## خبرداری! خپل ځان له درغلۍ وساتئ!



د درغلۍ په ترڅ کې د ښکار کېږئ. یوازې یو جواز لرونکی وکیل یا معتبر شوی استازی ستاسو د کډوالۍ په قضیه کې له تاسو سره د مرستې کولو واک لري. داسې څوک مه ګومارئ:

- د رد کوي چې لیکلی قرارداد درکړي.
- د کډوالۍ فورمې خالي فورمو پیسې اخلي.
- د ښو پایلو ژمنه کوي ځکه چې دوی په کډوالۍ کې ځانګړې اړیکې لري.
- داسې انګیرې چې وړ وکیل یا د کډوالۍ سلاکار دی.
- له تاسو څخه غواړي چې په فورمه کې دروغ وواياست یا یو خالي سند لاسلیک کړئ.
- د "د انتظار په لیست کې د شاملیدو" یا "خپل غوښتنلیک په لیکه کې اچولو" لپاره پیسې اخلي.

(د کډوالۍ غوښتنلیکونو لپاره د انتظار لیست یا لیکه نشته!)

- که فکر کوئ چې د درغلۍ قرباني شوي یاست، کولی شئ د حوزې څارنوالۍ دفتر، پولیسو یا خپلې قونسلګرۍ ته راپور ورکړئ.

**WE ARE BOULDER COUNTY**

We **RESPECT** all aspects of people including race, ethnicity, national origin, immigration status, gender identity, gender expression, sexual orientation, socio-economic background, political affiliation, age, religion, body shape, size, and ability.

Boulder County

**RESPETAMOS** todos los aspectos de la gente incluyendo raza, etnicidad, origen nacional, estatus migratorio, indentidad de género, expresión de género, orientación sexual, nivel socio-económico, afiliación política, edad, religión, forma corporal, tamaño y habilidad.

**SOMOS CONDADO DE BOULDER**